عبدالله وردک ۲۰۱۸/۰۸/۰۴

د شاګردانو په هکله ځینې معلومات!

ګرانو او قدرمنو لوستونکو!
په انګلستان کې د پوهنتون د پاره د کانکور ازموینه نشته. شاګردان، د کالج د نومرو په اساس پوهنتون ته ځي. دلته کالج دوه کاله ویل کیږي، او پدغه دوه کالو کې شاګردان، د خپل مسلک په ارتباط مضامین انتخابوي. دلته د هر مسلک د پاره ځانګړي مضامین، او خاصې نومرې پکار دي.
د کالج د دوهم کال په شروع کې، شاګردان، د خپلې خوښې او استعداد په نظر کې نیولو سره، مختلفو پوهنتونو ته خپله درخواستي، د خاصې اداري له لارې چې (UCAS) نومیږي، ورلیږي. شاګردان باید د درخواستی فورمې ډکې کړي، او د خپل مسلک د انتخاب دلیل په ښه واضح، او د هغې په هکله شواهد وړاندې کړي. بیا د دغه فورمو یوه مهمه برخه د شاګرد د استادانو پواسطه ډکیږي، په هغه کې د شاګرد د آینده نومرو په هکله، استادان خپل نظر لیکي. د یادولو وړ ده، چې د شاګرد د درخواستی فورمې، د یوه خاص استاد پذریعه کتل کیږي، او دغه د درخواستی فورمې تر هغو پورې، هغې خاصې اداري ته نه لیږل کیږي، ترڅو، هغه د همدغه خاص استاد پواسطه نه وي امضاء شویې. وروسته دغه خاصه اداره، د شاګرد د درخواستی فورمې، هغو پوهنتونو ته، چې شاګرد انتخاب کړي، ور استوي.
کله چې د کالج د شاګرد، د درخواستی فورمې د پوهنتون، مربوطه شعبې ته ورسیږي، نو هغه بیا په ډېر غور سره کتل کیږي. پوهنتون یا دغه درخواستي ردوي، او یا په ځینو شرطونو سره قبولي ورکوي. شرطونه، د همدغه تعین شوو نومرو پوره کول وي، او په ځینو وختونو کې، له شاګرد څخه، یو امتحان هم اخلي، او هم غواړي، چې له شاګرد سره مصاحبه وکړي. البته، د هر مسلک د قبلېدو لپاره، بیل بیل جدا شرایط، په نظر کې نیول کیږي.
هېره د نوي، چې په انګلستان کې د کالج د شاګردانو ازموینه، د ازموینې د بورډ، پواسطه اخستل کیږي. هر کالج، د یوه بورډ سره ارتباط لري. دغه د ازموینې بورډونه، د پخوانیو ازموینو سوالونه، او د هغو د حل کلی، د شاګردانو لپاره وړاندې کوي. دغه د ازموینې بورډ، د یوه مضمون ازموینه، په یوه وخت کې په ټولو کالجو کې تر سره کوي. د کالج د شاګردانو سوالونه، د دوی د استادانو پواسطه نه جوړیږي. سوالونه، د همغه مربوطه بورډ له خواه جوړیږي، او کېدای شي، چې د کالج کوم یو استاد هم د دغې بورډ غړي وي. د ازموینې د پارچو کتل او نمرې ورکول هم د دغه بورډ کار دی.
هېره د نوي، چې د پوهنتون د ازموینې سوالونه، پخپله د پوهنتون استادان جوړوي، او همدوی بیا نمرې ورکوي.
د یادولو وړ ده، چې ما د ګرانو او قدرمنو محصلینو د پاره، ځینې لیکنې وړاندې کړې دي، چې دوی کولای شي، هغه د ټول افغان، روهې، حقیقت، سباوون، او تاند وېب سایټو څخه تر لاسه کړي.
کله چې د کالجو نومرې اعلان شي، نو بیا مربوطه پوهنتون، د شاګردانو د نومرو په اساس، شاګردانو ته یا داخله ورکوي، او یا هغه د شرایطو، د نه پوره کولو په خاطر، ردوي.
سرکال، د کالج د نومرو نتیجه د آګست په ۱۵، د پنجشنبې په ورځ اعلانیږي. دغه ورځ، د شاګردانو په ژوند کې، یوه ډېره مهمه ورځ ده. پدغه ورځ، ځینې شاګردان، له ډېرې خوښحالی څخه پورته پورته غورځي، او ځینې بیا ډېر غلي او خفه ښکاري.
د انګلستان په پوهنتونو کې نوي شاګردان، د نورو شاګردانو څخه یوه اونۍ مخکې خپل درسي کال پیل کوي. پدغه یوه هفته کې دوی ته د پوهنتون د ټولو مقرراتو په هکله لازمې لارښوونې او معلومات ورکوي. دوی ته د کتابتون، لیلیې، بانکي حساب، او د ډاکتر سره د ثبت نام په هکله بشپړ معلومات ورکوي. پدغه لومړنۍ هفته کې د هرمضمون استاد، خپل ځان او خپل مضمون، نویو شاګردانو ته معرفي کوي، او هم د شاګردانو لپاره، یو استاد تعین کیږي، چې د مشکلاتو په وخت کې، له هغه سره لازمه مرسته وکړي.
هېره د نوي، چې ځینې شاګردان، پخپلو کورونو پسې ډېر خفه وي، او له دغه شاګردانو سره، مسلکي روزل شوي کسان، ډېر کمک کوي .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه ډېر کاله مخکې د خپل زوی سره د هغو نوي پوهنتون ته ولاړم. دلته پوهنتون، په ریښتیا سره خپلو نویو شاګردانو ته ډېره پاملرنه کوي. کله چې د پوهنتون رئیس، هغوی ته ښه راغلاست وویل، نو بیا د طب د پوهنځی رئیس، شاګردانو ته ډېرې ګټورې خبرې وکړې، او هغوی یې خپلو مسئولیتونو ته متوجه کړل. دغه د طب د پوهنځی رئیس، نویو شاګردانو ته، د ښه درس ویلو یادونه وکړه، چې شاګردان باید په خپلو درسونو کې ښه زحمت وګالي، او هغو یوه ډېره په زړه پورې کیسه وکړه.
هغې وویل: چې یوه ورځ، د همدغې پوهنتون، د طب د پوهنځی په پخواني رئیس، د زړه حمله راغله، او هغه یې، روغتون ته یووړ. دغه رئیس چې کله په هوش کې راغئ، او خپلې سترګې یې خلاصې کړې، نو ګوري، چې دده یو ټنبل شاګرد، د ده، د تداوی د پاره ولاړ دئ. کله چې دغه رئیس، دغه خپل ټنبل شاګرد ولیده، نو بیا د زړه ډېره سخته حمله پرې راغله، او مړ شو. نو دغه د طب د پوهنځی رئیس، دغو نویو شاګردانو ته وویل، چې ښه درس ووایئ، چې په مونږه استادانو هم د ځینو شاګردانو، د لیدلو له کبله، د زړه دوهمه حمله رانشي!
زه د انګلستان په مکتب او کالج کې د درس ورکولو کومه تجربه نلرم، او هغه څه چې ما د مکتب او کالج له استادانو اورېدلي، هغه دادي، چې د مکتب او کالج شاګردان یو څه اندازه شوخ وي.
په پوهنتون کې بیا دغه مشکل نشته، ځکه چې شاګردان خپل مسئولیت ته یو څه متوجه شوي وي. په اوسني وخت کې د شاګردانو فیس ډېر لوړ شوی دی، او شاګردان غواړي، چې د خپل فیس په مقابل کې یو څه شی لاسته راوړي. نن سبا د پوهنتون او شاګردانو معامله، د دکاندار او مشتریانو مثال لري.
زه فکر کوم چې، د پوهنتون استادي، د مکتب او یا کالج د استادی څخه په یوه شرط آسانه ده، چې استاد په خپل درس کې ښه تکړه او وارد وي. که چېرې استاد، په درس او اخلاقو کې ماته ونه خوري، نو هغه ته بیا شاګردان کوم آزار نشي ورکولای، او که چېرې، یو استاد، په درس او اخلاقو کې مات شو، نو بیا هغه هېڅوک هم نشي ټینګولای.
زه د درس په لومړی ورځ، خپلو شاګردانو ته په څرګنده توګه وایم، چې دوی باید په سوال کولو ونه شرمیږي، او دوی باید هر وخت خپل سوالونه وکړي. که چېرې د سوال ځواب راسره و، نو ډېر ښه، او که ځواب یې راسره نه و، نو بیا به ځواب په بل درسي ساعت کې درته ووایم، او د ټوکې په توګه ورته وایم، چې که چېرې الله مکړه، په ما د زړه حمله راغله، نو هغه به د ستاسې د سوالو په خاطر نوي!
همدارنګه، د نړۍ د ټولو شاګردانو زیاتره عادتونه سره ورته والی لري، که هغه د افغانستان شاګرد وي، او یا هغه د انګلستان، او یا د کوم بل ملک شاګرد وي. یوازې ځینې شیان یې، د ځانګړي ملک له کبله فرق لري، او ګمان کوم چې د شاګردۍ په چوکۍ کې به څه راز پټ وي!؟
دلته د انګلستان په پوهنتونو کې، د یوه استاد دپاره، د ماسترۍ او دکتورا نه علاوه، د تدریس د اصولو یو تصدیق هم پکار دی. ډېر کاله مخکې، مونږه استادانو هم په هفته کې یو وار دغه کورس د یو څو ساعتو د پاره تعقیب کاوه، او پدغه صنف کې ټول استادان و. اما، همدغه استادانو به یو له بله سره کله کله خبرې کولې، او کله نا کله به ناوخته درس ته راتلل، او دغه استادانو به هم د شاګردانو په شان کله کله د کورنۍ وظیفې له کبله د شاګردانو په شان بهانې کولې. یعنې شاګرد، شاګرد دی، چې په هرځای کې وي، هغه ډېر فرق نکوي.
هېره د نوي، چې د پوهنتون د استادۍ دپاره یو بل تصدیق ته هم ضرورت دی، چې په هغه کې باید، د استاد تزکیه شوې وي، او کوم منل شوی، جرم یې نوي کړی.
د پام وړ ټکي:
په انګلستان کې یو څو کاله مخکې، د پوهنتون درس مجاني و، او حتٰی، دولت به محصلینو ته د خوراک او کوټې مصرف هم ورکاوه. بیا په تدریج سره، فیس معرفي شو. اولینۍ فیس ۱۱۰۰ پونډه و، او وروسته ۳۵۰۰ پونډه شو، او اوس په اوسط ډول، ۹۵۰۰ پونډه شوی دی.
د یادولو وړ ده، چې اوس محصلینو ته، د دولت له خواه قرضه ورکول کیږي، او چې کله فارغ شي، او تنخواه یې تر معینې اندازې زیاته وي، نو دغه قرضه به بېرته دولت ته ورکوي.
زه غواړم چې په بله لیکنه کې د امتحان د پخوانیو پارچو د کتلو او تمرین د ګټو په هکله یو څه ولیکم.
همدارنګه، ما په پخوانیو لیکنو کې، ځینې مشورې، ګرانو او قدرمنو محصلینو ته وړاندې کړیې وې .
په پای کې د ګران وطن، ګرانو او قدرمنو محصلینو ته ډېر سلامونه وړاندې کوم، او ان شاءالله، زه به د لیکنو پذریعه، خپله تجربه له تاسو سره شریکه کړم.
د یادونې وړ ده، چې د هرکار په کولو کې، زمونږه یوازینی هدف، د الله(ج) د رضاء لاسته راوړل، او خلکو ته خدمت کول وي، او بس.
زه یو ځل بیا په ډېره عاجزۍ سره دواړه لاسونه، د الله(ج) لوی او مهربان دربار ته پورته کوم، او د زړه له کومې دعا کوم چې، الله(ج) د هغه شانته سوله په افغانستان، او په ټوله نړۍ کې راولي، چې الله(ج) ته قبوله او منظوره وي.
آمین یارب العالمین.
والسلام.

زما اړیکه: abdullahwardak53@gmail.com

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ